مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدابراهیم سپېڅلی

۲۰۲۶/۰۸/۲۶

# د اګست ۱۲مه

جنګ ورځ په ورځ د کندهار ښار منځ ته رانژدې کېږي، ولسوالۍ او ان ځيني ناحيې هم د طالبانو په لاس کې دي، د سخت جنګ له امله د يوشمير ناحيو څخه کورنۍ وتلې، په حاجي کيمپ، ښوونځيو او د پوهنتون ليليو کې داسې سخت ژوند کوي، چې په يو صنف کې درې کورنۍ يا هم څلور کورنۍ د کندهار په ايشولې ګرمې کې نامعلوم برخليک ته په انتظار دي.

د کندهار يو شمير سوداګر او په اقتصادي غوښه پېټ ښاريان هره ورځ دغوو بېځايه سويو کورنيو ته تر خپله وسه اوبه او خواړه برابروي.

د ميرويس روغتون مسؤل هره ورځ  له خبرياﻻنو سره د واټساپ په ګروپ کې د سلو کسانو په شاوخوا کې د مرګ ژوبلې جزوييات شريکوي.

د اګست مياشتې ګرمې، د بريښنا اوږدې پرچاوۍ اود شپې لخوا د ښار زړه ته  نژدې پر پرتو امنيتي پوستو د وسله والو طالبانو لخوا سخت بريدونو ټول ښاريان له ژونده بېزار کړي دي.

امنيتي سرتيري د شپې په جګړه بوخت وي، د ورځې تر خپل کنټرول لاندې ناحيو کې ګزمې کوي، خو امنيتي کړۍ ورځ په ورځ راتنګيږي.

زموږ کور د کندهارښار په چونۍ سيمه کې ۱۳ امنيتي حوزې ته په مخامخ کوڅه کې دی، هره شپه د دې حوزې او پاته  نورو امنيتي پوستو بريدونه روان دي، خو يوازې دغې امنيتي حوزې ته ځکه طالبان ډېر نژدې نه سي راتلﻻی، چې له يوې خوا د کندهارښار او ارغنداب ولسوالۍ ته پر  غځېدلې عمومي سړک پرته ده، له بله اړخه يې شمال لوېديځ خواته د « ملاصاحب سرای» چې د طالبانولومړي مشر ملا محمد عمر اخوند منسوب دی د امريکايانو لويه استخباراتي اډه پرته ده، چې اوس پکښې د هغوی روزل سوي افغان ځانګړي استخباراتي قطعه ځای پرځای ده او درېيمه مهمه خبره داده، چې په دې وروستيو کې يادې حوزې ته د جنرال رازق يو نژدې کس « تور عصمت» امر ټاکل سوی، چې نوموړی د طالبانو سرسخت دښمن دی.

په کندهارکې د نازولو بېځايه سويو کورنيو تريخ ژوند ته په کتو هره ورځ  خدای ته دا خواست کوم، چې « موږ کور پرېښوولو مه اړ باسه!.» خو ژوند کله د چا په خوښه وي؟  همهغه دی، چې د اګست پر ۱۲مه ورځ مو له کورنۍ سره تصميم ونيو، چې نن ماځيګر مهال به د کور مهم سامان له ځان سره واخلو او د خسر په کورکې به يوڅو شپې ځان له نژدې ټکانو بېغمه کړو.

د ۱۳مې حوزې څنګ ته زما د ورور دوکان دی، تر غرمې د دوکان مخ ته له نورو کليوالو سره ناست يم ، د رواني ناامنۍ په اړه هرڅوک خپل تحليل وړاندې کوي، له شهيدانو څلور لارې سره په کوڅو کې د طالبانو او امنيتي پوليسو لاس په لستونې جګړه شروع سوه، په ډلو ډلو د ښار دوکانداران او کسبه کاران وينم  له ښاره وارخطاء پر بايسکل، موټرسايکل او ټيکسي موټرونو کې کورونو ته بېرته را روان دي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

اندېښنه مي نوره هم زياته سوه د دوکان مخ ته جوړ مجلس مي پرېښود، کور ته راغلم د ماپښين ترلمانځه وروسته د خسر کور ته د ماشومانوپه سالم رسولو فکرجن يم ، چي ناڅاپه د درنو او سپکو وسلو ټکان همدا زموږ ۱۳مي حوزې ته رانژدې او د ما ځيګر ۴ بجو ته جګړې ښه زور واخيستی.

دا چي امنيتي حوزه زموږ کورته ډېره نژدې وه، نو داسي احساسوو، لکه جنګ چي زموږ پر کور شروع وي، ټول ماشومان مي نسبتا کښته زېرخاني« زېرزميني» کي دېوالونو ته کتار کښېنول اود هر درانه ټک سره « فضل خدايه! ته مو وساتې يا لويه خدايه!» دغه ناري وهوو.

ګړی په ګړی طالبان د حوزې شاوخوا رانژدې کېږي او په حوزه کي مقاومت هم زور اخلي.

ټول اولادونه مي وارخطاء او هغه د چا په اصطلاح له سختي ويري ژړا راپکښي ورکه ده.

زه او مېرمن هم له وهم رېږدو، خو اولادونو ته ډاډ ورکوو « بېغمه سئ ! زموږ کور له مرميو چپ دئ!» خو ماشومان کله په دې خبرو باور کوي.

جګړه نوره هم سخته سوه، د امنيتي حوزې د پوليسو ږغونه اورو، چي يواوبل ته دلاوري ورکوي او د سختو مقاومتي ټکانو په بدرګه وايي، « دغه يې اخري زور دی، نژدې نه سي راتللای ، هله هغه دی ټکان پروکړه ، مه يې پرېږده، چي دانژدې بامونو ته وخيژي.»

د پوليسو داناري نورهم موږ وارخطاء کوي، ماشومان مي ژاړي زما هم د ورځي په تېرېدو اود شپې په راتګ وارخطايي ډېرېږي.

ټول ماشومان ماته ګوري، زه دوی ته ګورم ، جګړه نوره هم رانژدې سوه ، کوچنيو لونو مي له وهمه الفبې سيپارې او ډوډۍ په زړه پوري نيولي ده او له خدايه د ټکانو د کرارېدو غوښتنه کوي.

د ماځيګر او ماښام لمونځونه مو په همدغه زيرخانه کي وکړه ، تر کلکين دباندي سرای ته ګورم ، سرې مرمۍ يوې او بلي خواته تيرېږي ، ځيني مرمۍ اود هاوان پرزې زموږ پر بام او د کور په منځ کي د ولاړ موټر پر هندارو ولګېږي، چي موږ نورهم وويروي.

غبې دېوالي ساعت ته ګورم، لکه خوابدی، چي وي، لکه ټپي سوي، هيڅ حرکت نه کوی، دا شپه بيخي اوږده سوه د سهار اذانونو ته لا يوساعت پاته دی،درانه ټکان يوځه کرار سول،خو د سپکو وسلو ټکان لا شروع دي، زموږ په کوڅه کي د خلکو ږغونه دي، يو ګړی وروسته دا ږغونه نورهم ډېر او يو چا په لوړ اواز امنيتي حوزې ته ور ږغ کړه« تسليم سئ ! شاوخوا ټوله منطقه د مجاهدينو په لاس کي ده، تاسي هم محاصره ياست.»

يو ګړی ميده ټکان هم ارام سول ، يو دم په تېزۍ د بريک وهلو موټرانو ږغونه سول، زه فکر کوم ، چي کومکي امنيتي سرتيري راورسيدل.

ټوله شپه مو درنو ټکانو غوږونه راخوړلي دي ، يو ګړی همداسي په ناسته يواوبل ته ګورو، خو په زوره ږغ نه سو کولای، ناڅاپه د ځرخي الوتکو ږغونه سول، د کندهارښار ميرويس مېنه او ډنډ ولسوالی ته نژدې ناحيې بمباروي ، يوه هفته کېږي، چي دغه سيمي طالبانو نيولي دي.

زما ويره نوره هم زياته سوه، چي هسي نه دا بمبارۍ ۱۳ حوزې خواته هم رااوړدې سي اودا ړندې بمبارۍ بيا د بېګناه او ګناهکار په کيسه کي نه دي بس خپل کار کوي.

زه په دغه فکرونو کي حيران ولاړ يم، نابېره د جيټ الوتکي ږغ سو او له ږغ سره سم داسي درنه بمباري يې وکړه، ما چي ويل زموږ کور يې بمبار کړ، ټوله سيمه کي چوپتيا خپره سوه، د کور ټولي دروازې ودربېدې.

له يوځه ځنډ وروسته دوهم وار د سهار د لمانځه پر وخت هغسي جيټ الوتکي راغلي او هغسي درنه بمبار يې وکړه.

د الوتکو له تګ ښه ډېر ګړی وروسته دادی کرار کرار بام ته وختم، چي کوم ځآی يې بمبار کړی دی؟ اوهو ! داخو د ۱۳ حوزې شمال لوېديځ خواته د « ملاعمر کور» چي تېرشل کاله د امريکانو خطرناکه استخباراتي اډه وه لوګي او لمبې ورڅخه راپورته کېږي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

هوا یوځه رڼا سوه دباندي راووتم زموږ نور همسایګان هم د کوڅې په خوله کې ولاړ دي، د ملاعمر له سرایه تور لوغړن دودونه لا د اسمان څنډو ته پورته کېږي، چې یو ځوان وویل،«موږ ډېر کسان هلته ورغلو، امریکایانو په دغه ځای کې د تیلو او نورو خوراکي موادو ذخیرې بمبار کړي دي.» وروسته معلومه سوه، چې خبره همداسې ده او یوشمیر پاته شوني لا د نژدې کورونو ځوانانو چور کړي هم دي.

موږ د کوڅې په خوله کې ولاړ خلک حوزې ته ګورو ، شاوخوا په دېوالونو کې د مرمیو لګېدو نخښې له ورایه ښکاري.

تراوسه لا ملي بیرغ پر ۱۳مه حوزه رپېږي او د کندهار د مخکني امنیه قومندان جنرال رازق لويې عکس، چې ځینې برخې یې د برایې شپې په جګړه کې په مرمیو سورې سوي پر دېواله نښتی دی.

ولاړ ټول خلک یواوبل ته په اشارو او پټو خبرو سره وایي «حوزه کې څوک نه سته، امنیتي کسان تښتېدلي دي.» موږ لا همدلته ولاړ یو، تقریبا شل طالبان، چې راکیټان او کلاشنکوفونه پر اوږو، پایڅې یې راپورته کړي، چا د پټو چا هم د پاچ لنګوټې تړلي حوزې ته راورسیدل.

په دې وخت کې نور خلک او تنکی ځوانان هم له کورونو راووتل د طالبانو ننداره کوي.

یو شپاړس کلن طالب، چې سپین کلیمه لرونکی بیرغ یې تر سر تړلی دی، کلاشینکوف یې خپل ملګري ته ورکړی په تلوار د حوزې بام ته ورختی، ملي بیرغ یې د جنرال رازق له عکس سره یوځای لاندې راشیوه کړل، ترسر تړلی سپین بیرغ یې د ملي بیرغ پرځای ځوړند کړ.

زما شل کلن زوی، چې تازه له د دولسم ټولګی فارغ سوی، لېسه یې هم په حوزې پورې نښتې ده، د ټولو خلکو له منځه ورغلی غورځول سوی ملي بیرغ راپورته کړ او په احترام یې کتوي ، حوزې ته نژدې ولاړ اکثره خلک اشارې ورته کوي، چې « مه کوه بیرغ ته لاس مه ور ړه» خو پرده ملي احساس دومره غالب دی، چې یوازې بیرغ ته متوجه دی، ښه خبره داده، چې د کوم طالب ورته پام نه دی، کنې موضوع خرابېږي.

حالات خوند نه راکوي، بیرته کور ته روان سوم د سهار چای مو په بې خوندی وڅښلې، ځکه ټوله شپه مو په ویښه تېره کړې ده، وروسته پر خپل « چرګه8 موټرسایکل» سپور بازار ته راووتم، اکثره دوکانونه تړلي، هري خواته ډلي ډلي طالبان له وسلو سره پر موټرسایکلانو، رنجرانو او پېنو باندې ګرځي راګرځي.

د ولایت مقام مخ ته د طالبانو او عامو خلکو داسې ګڼه ګونه ده، چې د یوې دقیقې لار مې په نیم ساعت ووهل.

عام خلک طالبانو او طالب خلکو ته حیران دي، څوک عکسونه ورسره اخلي، څوک روغبړ ورسره کوي، ځینې بیا ټوکې پر کوی،په ښار کې سخت بیروبار دی.

پر ډېرو لږو ځلور لارو ټرافیک ولاړ دي، په اکثرو ځلور لارو کې بیا تېره شپه له سنګرونو راکښته سوي طالبان د ټرافیکو دنده سرته رسوي، خو اوس دوی هم پوه سوي، چې د ښار نیول اسان او مهارول یې ګران دي.

همدا سبب دی، چې له کندهار ملي راډیو څخه د کندهار نوي والي محمد یوسف وفا دا یو پیغام مسلسل خپرېږي « ټرافیکان او نوردولتي کارمندان دې خپلو دندو ته حاضر سي.»

۲۰۲۲/ اګسټ/ ۱۵ المان بن ښار


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ